# هاردویر

# Hardware

لیکوونکی: شمس الدین ((الفت))

کال: 2013
حلال اباد – ننګرهار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب ځانګړني:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | هاردویر |
| لیکوال | :: | شمس الدین ((الفت)) |
| دلیکوال بریښنا لیک | :: | ulfats.amin@outlook.com |
| د چاپ لړۍ | :: | اول |
| کمپوز | :: | انتظار خان |
| ډیزاین | :: | عبدالقدیر امین |

د کتاب د لاسته راوړني پته :: نوی سید جمال الدین افغان انستېتیوت جلال اباد، افغانستان

د دې کتاب د کاپي چاپ او تکثیر ټول حقوق په لیکوال پورې محفوظ دی، سرغړونکي به یې له سختو قانوني مجازاتو سره مخ شي، د اجازې لپاره د لیکوال سره اړیکه ونیسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

خپل ګران نيکه مرحوم انجينر معراج الدين ((امين)) ته يې ډالۍ کوم چې د لمړي ځل لپاره يې د کمپيوتر زده کولو ته وهڅولم.

شمس الدين ((الفت))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

الله ج په ځینو خلکو لورینه کوي او د ځانګړي استعدادونه سره مل يې پيدا کوي.

زه ددې شکر اداء کوم چې زه هم د الله ((ج)) د خپلې دغه لورينې او مهربانۍ نه بهره مند زيږولی یم، د لوی خدای ((ج )) دهغه ځانګړی بر کت او لطف چې پر ما يې کړي دی، ډير ممنون او شکر داء کوم. الله ((ج)) دی وکړي چې زمونږ د ټولنې هر یو ځوان د داسې ځانګړی نعمت څخه برخمند کړي.

د څوکالو نه را په دې خوا زه په ټولنه کې د يوې ځانګړی خلاء او تشې ته متوجه شوم، چې زمونږ په ټولنه کې تر اوسه د هارډوير په برخه کې داسې کوم يو اثر نه ؤ موجود او که موجود هم ؤ، نو هغه زمونږ په خوږه ژبه پښتو باندې نه وه ليکل شوی، یوه پوه وايې چې (( که ته د داسې يو کتاب په لټه کې يې چې تر اوسه نه وي ليکل شوی نو ته يې په خپله وليکه))، نو دا فکر راسره پيدا شو چې داسې يو کتاب بايد وليکم چې زمونږ په ټولنه کې دغه خلاء ډکه کړي او د لوی الله ((ج)) څخه ډير راضی یم، هغه کتاب چې اوس ستاسې په لاسونو کې دی، د ليکلو توان يې را په برخه کړلو.

د هاردوير په دې کتاب کې د کمپيوتر د پرزو دندې، ترميمول او بدلولو په برخه کې معلومات ورکړل شوي دي، د کمپيوتر د تصويرونو په برخه کې د ښاغلي استاد عبدالقدير امين نه ستړی کېدونکی هلی ځلی د ستايلو وړ بولم او د لا زيات برياليتوب په هيله يې يم.

شمس الدين ((الفت))

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال لنډه پېژندنه

شمس الدين ((الفت)) د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ د شولانۍ په کلي کې د نن څخه ۱۸کاله پخوا په يوه ديندراه او روشنفکره کورنۍ کې زيږيدلی دی. شمس الدين په ۱۳۷۹هـ.ش کال کې د شولانۍ په منځنۍ ښوونځي کې خپلې زده کړې شروع او په ۱۳۸۸هـ.ش کال کې دمنځنۍ دوري دپاي ته رسولونه وروسته د شهيد محمد عارف په عالي لېسه کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه او په ۱۳۹۱هـ.ش کال کې د نوموړې لېسي نه په اعلی درجه فارغ شو، د منځنۍ ښوونځی سره په خوا کې ښاغلی ((الفت)) دينې زده کړي د حضرت عبدالله ابن مسعود ((رض)) په دينې مدرسه کې پای ته ورسولی، او د کمپيوتر، ژورنالېزم او انګليسې په برخه کې يې زده کړي په نوي سيدجمال الدين افغان انستېتيوت کې وکړلي، او وروسته په همدې انستېتيوت کې د کمپيوتر اپريټر او د کمپيوتر د ښوونکي په حيث د دوه کالو دندې اجراء نه وروسته د ښوونکی په حيث تر اوس مهاله پورې دنده اجراء کوي، د لا زياتو برياليتوبونو په هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دسکتاپ کمپیوتر د هاردویر برخه

# Desktop Computer Hardware

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمپیوتر

کمپیوتر یو برقی ماشین دی، د مختلفو نوعو مشکلاتو د حل کېدلو لپاره هغه معلومات چې ورکړل شوي وي استعمالېږي.
کمپیوتر د لاتیني ژبې د Compute څخه اخېستل شوی دی چې معنی یې محاسبه یعنې شمېرل دی.
کمپیوتر د هاردویر او سافت ویر یوځای والی ته وایې.

هارډویر څه شی دی؟What is Hardware? :
د کمپیوتر فزیکي جوړښت د هاردویر په نوم یادیږي کوم چې استعمالوونکی کولای شي په سترګو و وینې او په لاس یې لمس کړي. لکه کیبورډ....

سافت ویر څه شی دی؟ What is Software? :
سافت ویر د معلوماتو هغه مجموعې ته ویل کېږي کوم چې کمپیوتر د هغې په واسطه مشکلات حلوي، سافت ویر د پروګرام په نوم هم یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هاردویر او سافت ویر ترمنځ توپیر:

د هاردویر او سافت ویر ترمینځ زیات فرقونه شته دی چې ځینې یې په لاندې ډول دی.

| هاردویر | سافت ویر |
|---|---|
| هاردویر د کمپیوتر فزیکي جوړښت دی کوم چې په معلوماتو باندې عملیه اجراء کوي | سافت ویر د لارښودونو مجموعه ده کوم چې په واقعې توګه کمپیوتر ته وایې چې څه وکړي. |
| هارد ویر بیدون د سافت ویر نه هیڅ هم نشي کولای | سافت ویر د هارد ویر نه بیدون نشې موجود کېدلای |
| هاردویر لیدل کېدلای او لمس کېدلای شي | سافت ویر نشی لمس کېدلای |
| هاردویر د مشکل په درلودلو سره ترمیم کېدلای شی | سافت ویر د مشکل په پېدا کېدلو سره له خپل عملیه نشې اجراء کولای |
| هاردویر تبدیل کېدلای شي په داسې حال کې چې ترمیم نشي | سافت ویر بیا نصب کېږي که چېري مشکل حل نشي |

**مین بورد**: Mainboard

**مادربورد (مین بورد ) څه شی دی ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مین بورد د کمپیوټر هغه برخه ده کوم چې د کمپیوټر ټولی پرزی سره یوځای کوی، یا په بل عبارت مین بورد د کمپیوټر اساسی واحد دی چې د کمپیوټر ټولې پرزې یو دبل سره نښلوی لکه، ویډیو کارډ، سوند کارډ، او داسې نور






د Sata کیبل کوم چې د مین بورد سره پرزی وصلوی

Ram څه شی دی؟

Ram د (Random Access Memory) لنډیز

دی کوم چې زمونږ ډاټا د مؤقت وخت لپاره ذخیره کوي او په ډاټا باندې په سریع ډول عملیه اجراء کوي، کله چې مونږ یو پروګرام خلاصوو نو هغه د هارډدیسک نه ریم ته پورته کیږي چې زمونږ کار په اسانۍ او سریع ډول سره اجراء کوي خو که چیرې تاسې کمپیوټر بند کړي نو د ریم معلومات به مو لکه د حساب د ماشین په شان له منځه ولاړ شي.

تر ریم اوسه پورې د مختلف قسمونه مونږ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**سره شته لکه** DDR1, DDR2 **او همدارنګه د پرنټر او کمپيوټر ريمونه**.

**سیستم څه شی دی ؟** What is CPU?:

CPU **د** (Central Processing Unit) **مخفف دی د** CPU **وظیفه او مسؤلیت د کمپیوتر د هاردویر او سافت ویر د آمرونو یا کماندونو د پوهیدلو او اجراتو کولو وظیفه په غاړه لری**.

**تر اوسه پورې مونږ سره د پروسیسر زیات قسمونه وجود دی چې** CORE ™ I 7 **يې اخرنې ورژن دی چې تراوسه د استفادې وړ ګرځيدلی**.

**سي پي یو د کمپیوتر مغز په نوم نو یادیږي**.



**ویډیو کارد څه شی دی**What is Video Card ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویدیو کارد پواسطه کمپیوتر د** Output **پرزې یعنې مونیټور یا پرجکتور ته تصویر ی معلومات پرې ښکاره کولو لپاره ورکوي.**
**ویدیو کارد همدارنګه د** Graphic card, Graphic Adapter, Video adapter **په نومونو هم یادیږي.**



**سوند کارد څه شی دی** What is Sound Card؟
**سوند کارد پواسطه کمپیوتر د اواز لرونکې معلومات د اواز د اخیستونکو پرزو یعنې سپیکر او هیدفون ته ورکوي.**
**سوند کارد همدارنګه د** Audio Card, Audio Adapter, Sound Adapter **په نومونو هم یادیږي.**



**هارددیسک**:Hard Disk Drive (HDD):
**هارددیسک یو عمومې او د همېش لپاره یو غټ او لویه د معلوماتو د ذخیره کولو توانایې په یو کمپیوتر کې لري د** Operating System **او همدا شان نور فایلونه په هاردیسک کې ذخیره کیږي.**

**هارددیسک همدارنګه د** Hard Drive, Hard disk, Fixed Disk Drive **په نومونو هم یادیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





:CD Drive



**پاور سپلاي** Power Supply:

**پاور سپلای د کمپیوتر د برق یو عادی سیستم دی چې د کمپیوتر لپاره برق د کنترولولو او د برق د ولتیج د بدلولو نه وروسته د سیستم بورد یعنې مادر بورد ته وړاندې کوي.**

**عموماً پاور سپلای** 240 **او یا هم** 110 **ولته برق اخلی چې** AC **برق یې** DC **ته په** 3v, 6v DC , 12 and 24 v **برق باندې تبدیلوي**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیپټاپ هارډویر برخه:

په دې برخه کې د DELL لیپټاپ او په خاص ډول د DELL Latitude D 630 لیپټاپ د پرزو معرفي کېدل د تبدیلولو، ترمیمولو په برخه کې معلومات را ټول شویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارښود:

**د دې کتاب په مرسته تاسو کولای شي چې څنګه د خپل کمپیوتر پرزې وپېژني او هغه ترمیم او تبدیل کړي، نو لاندې عملیې په مسلسله ډول اجراء کړي.**

- **په اوله مرحله کې باید تاسو خپل کمپیوتر، مخکې له دې چې د کمپیوتر په داخل کې کار وکړی ګُل (Shutdown) کړي.**
- **تاسو باید د کمپیوتر د محفوظتیا د معلوماتو لارښود د معلوماتو د لارښود په کتابچه کې کومه چې ستاسو د کمپیوتر سره تاسو ته درکړی شوي ده ولولئ.**
- **تاسې کولای شی چې یوه پرزه د بدلولو د عملیې په ترسره کولو سره تبدیله کړی.**

---

سامان الات:

**هغه سامان الات چې تاسو ورته د کمپیوتر د پرزو د تبدیلولو او ترمیمولو په برخه کې ضرورت ولري.**

- ✓ **وړوکی چهاررخ پیچکش.**
- ✓ **دورخ پیچکش.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ شش رخ پیچکش
- ✓ وړه پلاستیکي پیاله. د پیچونو د ساتلو لپاره.

د کمپیوتر ګُل کول:

نوټ:

د معلوماتو د لمنځه تللو د مخنیوي لپاره تاسو باید هر خلاص فایل ثبت او بند کړی مخکې له دې چې خپل کمپیوتر ګُل کړي. ،

1. خپل کمپیوتر ویندوز پروګرام ګُل کړي.
2. په ستارت بټن باندې کلیک وکړي، په Shutdown باندې کلیک وکړي او د هغې نه وروسته بیا Turn off بټن کلیک کړي.
3. کمپیوتر وروسته د هغې چې د ویندوز نظام د ګُل کېدلو عملیه ختمه شي ګل کېږي.
4. ځان مطمئین کړي چې ستاسو کمپیوتر ګل شوی کې نه وي ګُل شوي نو Power Button د څلور ثانیو لپاره زور ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې له دې چې د خپل کمپیوتر په داخل کې کار وکړي.

لاندې محافظتي لارښوونې په زیر سره وګوري، چې تاسو سره مرسته کوي چې خپل کمپیوتر د هغه خرابیدلو څخه وساتي چې ممکن تاسي ورسره مخ شي.

ځان مطمئین کړي پر هغه ځای کې چې تاسو کار کوي صفا وی تر څو د کمپیوتر پرزې د ګریدلو او خرابیدولو څخه محفوظي وي.

خپل کمپیوتر ګُل کړي.

هرنوعه پرزي مثلاً د تلیفون لین د نیټ ورک لین فلش او داسې ورته نور لینونه د خپل کمپیوتر څخه وباسي.

ټولې هغه پرزې چې برقې اوټ لري د کمپیوتر څخه وباسي لکه V.G.A cable او داسې نور.

کمپیوتر مو پر بل مخ واړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6. بطري د کمپيوتر څخه وباسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بطري څه شی دي؟ What is battery?:

په عمومي ډول لیپټاپ کمپیوترونه بطري لري چې د یو معلوم وخت لپاره چارج ذخیره کوي، یعنې د بطرۍ د کمپیوتر لپاره چارج ذخیره کوي.


a. د بطري د ویستلو لپاره لمړی هغه دوه تکمې چې

نوټ:

د کمپیوتر د Main Board د خرابېدو د مخنیوي لپاره لمړی خپله بطري د کمپیوتر څخه وباسې.

بطري خوشی کونکی کش کړی، تر څو بطري خوشي شي.

بطري د شکل مطابق مخې طرف ته کش کړي، د بطري د ځای



(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه بطري پورته کړي.

7.

8. پاور بټن ته فشار ورکړي، هغه چارج چې په کپيسټرونو او نورو ځايونو کې ذخيره دی له منځه ولاړ شي.

9. ټول اضافي کاردونه لکه ټي وي کارد، سونډ کارډ او نور د کمپيوتر ځخه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کمپیوتر پېژندنه:










## د پېچونو پېژندنه:

**کله چې تاسو غواړي د خپل کمپیوتر پرزې تبدیلې کړي نو دا برخه باید تاسو د خپل ځان لپاره چاپ کړي، نوموړي برخه تاسو ته د پیچونو لمبر او د هغه اندازه ښايي.**





(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| د سی دی روم پیچ (1)  M2.5 x 8 mm | (4)  M2.5 x 5 mm | (4 each)  M2.5 x 8 mm |
| (2 each)  M2 x 3 mm | (6 each)  M2.5 x 5 mm | (8 each)  M2 x 3 mm |
| (3 each)  M2.5 x 5 mm | (7 each)  M2.5 x 8 mm | (2 each)  M3 x 3 mm |
| (1 each) | (5 each) | (3 each) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
|  M2 x 3 mm |  M2.5 x 5 mm |  M2.5 x 5 mm |
| (2 each) | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کیبورډ:

کیبورډ د خط د لیکلو لپاره استعمالیږي، چې د الفباء، لمبرو او نورې مختلفې بڼې درلودونکی دی، د مختلفو معلوماتو د داخلولو لپاره استعمالیږي.

### د کیبورد خلاصول:


1. د رهنما د تعقیب کولو نه وروسته د کمپیوتر په داخل کې کار وکړي.
2. پینل یا Hinge Cover وباسي.
3. هغه درې پیچونو د وړوکي چهاررخ پیچکش پواسطه خلاص کړي چې د کیبورډ له پاسه موجود دي.
4. کیبورډ د خپل ځاي څخه را اوچت کړی او هغه ډیر په ورو ډول مخ پورته خواته تاو کړي ترڅو چې تاسو هغه ځاي و وینې چې کیبورد د بورد سره نښلوي.
5. د کیبورډ لین د سیستم د بورد نه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کیبورډ تبدیلونه:

1. د کیبورډ د خلاصولو نه وروسته نوی کیبورد د سیستم سره وصل کړي.
2. کیبورد بېرته خپل ځاي ته ورسوي.
3. هغه درې پیچونه چې د کیبورد له پاسه دی بیرته بند کړي.
4. پینل بېرته بند کړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



## :RAM

هغه معلومات کوم چې مونږ ته د مؤقت وخت لپاره ښکاره کېږي د RAMپواسطه مونږ ته ښکاره کېږي.

## د ریم تبدیلول:Changing of  the RAM





1. DIMMA
2. DIMMB

د DIMMA د خلاصولو لپاره باید اول:



1. فینل خلاصوو.
2. کیبورډ خلاصوو.
3. کیبورډ اوباسو ، د هغې نه وروسته مونږ ته ریم ښکاره کېږي.
4. که چېرې تاسو غواړې چې ریم مو بدل کړي نو خپلې ګوتې د ریم د راویستلو لپاره استعمال کړي.





(c) ketabton.com: The Digital Library




د تصویر برخه:

سکرین په ښوودونکو پرزو په ډله کې راځي چې د داخل شوو معلوماتو نتیجه مونږ ته ښکاره کوي.

د سکرین تبدیلول

1. پینل وباسي.



2. کیبورد هم خلاص کړي.
3. هغه کېبل چې د سکرین څخه سیستم ته راغلی وباسي.
4. د ویرلیس د انتن کیبلونه وباسي.
5. په احتیاط سره کیبلونه باید و ویستل شي.
6. سکرین بند کړي.
7. خپل کمپیوتر مو پر بل مخ واړوي، چې تاسو ته مخامخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



8. د کمپیوتر د شا نه هغه دوه پیچونه چې اندازه یې M2.5x8-mm ده وباسي چې د D په توري باندې نومول شوي دي خلاص کړي.

9. د کمپیوتر د شانه هغه دوه پیچونه چې اندازه یې M2.5 x 8-mm ده خلاص کړي.

11. کمپیوتر پر بل مخ را واړوي او سکرین خلاص کړي.




12. سکرین د کمپیوتر د جوړښت نه بیرون کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د سكرين د ښيښې تبديلول:

1. د سكرين دښيښې د چوكاټ باندې هغه شپږ پلاستيكي ساتونكي لري كړي تر څو تاسو ته شپږ دايروي پيچونه ښكاره شي.

نوټ:


په ډير احتياط سره پلاستيكي چوكاټ د ښيښې څخه جدا كړي.

1. هغه شپږ پيچونه چې اندازه يې M2.5 x 5-mm ده خلاص كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. د دې لپاره چې ښیښه د خپل چوکټ څخه بیرون کړي نو خپلې د لاسونو ګوتې مو د راپورته کولو لپاره استعمال کړي ترڅو سکرین ته کوم ضرر و نه رسیږي.





د سکرین د پښو (جکونو) تبدیلول:

1. سکرین خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. د سکرين له پاسه چې کوم تور ليبل پلاستيکې پوښ دی هغه هم خلاص کړي. کوم چې ۶ پيچونه لري.
3. M2.5 x 5-mm پيچ د سکرين د جک د ښې خوا نه خلاص کړي.
4. ښې ښپه د سکرين دپوښ نه پورته کړي.
5. ۳ او ۴ عمليې د چپې ښپې د خلاصولو لپاره تکرار کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




**هارد ديسک:**

**هارددیسک مونږ سره د ذخیره کوونکو پرزو په ډله کې راځي کوم یو چې زمونږ معلومات د دایم لپاره ساتي.**

**د دې لپاره چې هارد ديسک تبديل کړو نو بايد لاندې مراحل طي کړو.**

1. **مخکې له دې چې تاسو خپل د کمپیوتر هارد ديسک تبديل کړي تاسې بايد لومړي خپل کمپیوتر ګُل کړي، د معلوماتو د لمنځه تللو د مخنيوي لپاره بايد تاسو کمپیوتر د ستند باي** Standby **او يا هايبرنيټ**




Hibernate **د حالات څخه وباسي او ګُل يې کړي.**

2. **هغه دوه پيچونه خلاص کړي چې هارددیسک يې نيولی دی.**

3. **هارد ديسک د کمپیوتر نه بيرون کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. نوی هارددیسک د هغې له پوښ نه وباسي او پورته عملیې معکوسي اجرا کړي.

5. تاسو باید د ویندوز او درایور او داسې نورو ضروري پروګرامونو سی دی ولری او هغه انسټال کړي ترڅو د خپل کمپیوتر څخه استفاده وکړای شي.

نوټ: د هارد دیسک برخواته هیڅکله هم باید فشار ور نه کړل شي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ډي وډي روم یا سي دي روم تبدیلول:**

**نوټ:**

**تاسو کولای شی که چیري د پرزې محافظتې پیچ موجود نه وي خپل کمپیوتر څخه سی دې روم وباسې او پر ځاي یې بله انستال کړي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوټ:**

**د پرزې د روغ ساتلو لپاره هغه په يو وچ او صفا ځاي کې بايد وساتل شي او هغې ته بايد نه د ښکته او نه هم د پورته طرف نه کوم فشار ورکړل شي تر څو د هغې د خرابيدو نه مخنيوي وشي.**

1. **که چيرې د پرزې محافظتې پيچ موجود وي نو هغه خلاص کړي.**
2. **که چيرې ستاسې کمپيوتر په همدې وخت کې چالان وي نو په taskbar باندې په Safely Remove the Device کې ډبل کليک وکړي او هره پرزه چې تاسو غواړي وباسی نو په Eject باندي کليک وکړي.**
3. **د سی دی روم هغه بټن ته فشار ورکړي چې روم مو مخکې راشي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





4. خپله سي دي روم مو را وباسي.

د نوي سي دي روم د داخلولو نه وروسته کله چې هغه خپله ځاي ته ورسېده نو همغه بټن بيرته زور کړي او پيچ يې پرې وتړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ارتباطي پرزې يا Communication Cards:

**د هارد وير هغه برخې چې د معلوماتو د نورو کمپيوترونو سره د تبادله کېدلو وظيفه په غاړه لري د ارتباطي پرزو په نوم ياديږي.**

Wireless Local Area Network (WLAN) Card:

**که چېري تاسې د کمپيوتر د اخيستلو په وخت کې وايرليس کارد حواله ورکړې وي نو ستاسو په کمپيوتر کې موجود دی.**

1. **لومړی پينل خلاصوو.**
2. **کيبورد خلاصوو.**



(c) ketabton.com: The Digital Library




د دې لپاره چې د کنیکټرونو د خرابیدولو څخه مخنیوی وشي نو کیبلونه باید په کومې الاې سره خلاص نه شي.

4. که چیرې ستاسو په کمپیوټر کې کارد نه وي نو پنځمې مرحلې ته لاړ شي او که وي نو لاندې مراحل یې د تبدیلولو لپاره موجود دي.

a. هغه کارد چې ستاسو په کمپیوټر کې موجود دي وباسي.

b. خپلې ګوتې په ډېر احتیاط سره هغه فلزي کلیفونه چې کارد یې بند کړي کش کړي تر څو ستاسو کارد بره طرف ته لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




c.  کارد پورته طرف ته د هغې د پورت څخه جیګ کړي.

هیڅکله هم WLAN card د Mobile Broadband card په ځاي کې مه داخلوي.

5.  د نوي کارد د داخلولو لپاره:

(c) ketabton.com: The Digital Library




a. کيبلونه د خپلو ځايونو څخه لري کړي تر څو د کارد د اخلو ممناعت ونه کړي.

b. کارد په ۴۵ درجې زاويې کې د کارد د کنيکتر ځاي ته برابر کړي تر څو خپل ځای ته ورسيږي.

c. د کارد د انتن لينونه په صحيح توګه د کارد سره وصل کړي.







(c) ketabton.com: The Digital Library



# Mobile Broadband Card

**د Mobile Broadband Card دې کارد انستال کول هم د وان کارد په شان ته دي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیستم بورډ تبدیلونه:

1. مخکې له دې چې د کمپیوتر په داخل کې کار وکړي نو لاربښود تعقیب کړي.
2. فینل خلاص کړي.
3. سی دی روم یا دی وی دي روم خلاص کړي.
4. کیبورډ خلاص کړي.
5. سکرین خلاص کړي.
6. هغه اضافي کاردونه لکه وای‌رلیس، بلتوت او داسې نور هم خلاص کړي.
7. وړکی سیل (بطري) خلاصه کړي.
8. هغه درې پیچونه چې د P په توري لیبل شوي دي او موس پیدې یې کلک کړی دی خلاص کړي.
9. کمپیوتر پر بل مخ واړوي.
10. هارد دیسک خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




11. هغه دوه پیچونه چې د هارددیسک يې کلک کړی دی خلاص کړي.



12. د M2.5 x 8-mm هغه دوه پیچونه چې د هاردیسک لاندې موقیعت لري خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






پـه ډېر احتیاط سره ټول کمپیوتر د موس پیډ څخه جدا کړي تر څو موس پیډ پورته جګ شي

موس پیډ خلاص کړي.


a. په ډیر احتیاط سره د خپلو ګوتو په واسطه موس پیډ پورته طرف ته ورو ورو کش کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



b. وروسته له دې چې موس پيډ خلاص شوو نو مخکې طرف ته يې پورته کړي.

14. د موس پيډ لين د سيستم سره د ارتباطي ځاي څخه وباسي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



# موډیمModem

1. هغه دوه پچونه خلاص کړي چې موديم يې کلک کړی دی.

2. موديم پورته طرف ته پورته کړي چې د سيستم سره يې ارتباط ختم شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیستم څخه د مودیم ارتباط پیدا کوونکی لین مه وباسي.


3. د مودیم لین د مودیم څخه وباسي.

د سپیکر خلاصونه:

1. د سیستم سره د سپیکر ارتباط پیدا کوونکی لین وباسي.
2. سپیکر پورته طرف ته جګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






| | |
|---|---|
| 1 | spea |

3. سپيکر د احتياط سره پورته کړي تر څو د خرابېدو څخه يې مخنيوي وشي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



# PC Card Reader

1. هغه څلور پیچونه چې د کارد لوستونکي یې ټینګ کړی دی خلاص کړي.

2. کارد لوستونکی پورته طرف ته کش کړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



دپروسيسر يخوونکي اله:

هغه څلور پيچونه چې د ۱ نه تر ۴ پورې په نمبر باندې ليبل شوي په ترتيب سره خلاص کړي.

1. د پروسيسر يخونکي اله د کمپيوتر څخه پورته کړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پروسیسر تبدیلول: Processor Module


1. د دې لپاره چې د پروسیسر پیچ خلاص کړو نو لومړی باید مونږ یو وړوکي دو رخ پیچکش ولرو او هغه ښې خواته ورو تاوو تر څو پروسیسر د خپل ځاي څخه بي ځایه شي.




2. د پروسیسره د پورته کولو لپاره هیڅکله هم د کومې الې په واسطه د هغې ستنې و نه نیسي تر څو هغه کږي نه شي.

## میکرفون: Microphone

1. د شکل مطابق میکرفون د سیستم څخه خلاص کړي




(c) ketabton.com: The Digital Library



# د System Board سیستم د بورډ (مادر بورډ) تبدیلول:

## د سیستم بورډ خلاصلول Removing the System Board:

1. د پکي لین د بورډ څخه خلاص کړي.
2. د لین کارډ او همدارنګه د نورو لکه د مودیم، سپیکر او داسې نور کیبلونه خلاص کړي.
3. هغه درې M2.5 x 5-mm اندازه پیچونه چې مادر بورډ یې کلک کړي د کمپیوتر له شانه خلاصوو.




4. هغه څلور 5-mm شپږ اړخېزه پیچونه د کمپیوتر د مخې نه چې په دوهم راتلونکې شکل کې یې ګوري د شش رخ پیچکش پواسطه خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




5. مین بورډ پورته جګ او کوز طرف ته کش او د پلاستیکي پوښ نه یې جدا کړي.



انځوورنه د بورډ د ننویستلو طریقه ده

د نوي بورډ د داخلولو نه وروسته پورتني عملیې باید د اخرې خوا نه پورته خواته په ډیر دقت او زیرتیا سره وکړي، په یاد ولري چې ټول پیچونه باید تبدیل کړي او هیڅ کوم پیچ باید دکمپیوتر په داخل کې در نه پاتې نه شي تر څو د کمپیوتر په داخل کې د پرزو د خرابېدلو باعث و نه ګرځي.



د ترمیم برخه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څنګه کولای شو چې خپل کمپیوتر ترمیم کړو؟

د کمپیوتر د ترمیم کولو لپاره هغه سامان الات Materials کوم چې ضروري وی په لاندې ډول دی:

١. پیچکشونه یوه د سامان الاتو بکسه چې په هغې کې پیچکشونه، پلاس، کټپلاس، موشپلاس، زربین، مقناطیس او نور شامل وي.

٢. کهوه، لیم، برقي کهوه، د ګرمولو منبع....

٣. Hot Air Gun یعني هیډګن....

٤. د پیچونو د ذخیره کولو لپاره یوه وړه پلاستیکې قوطۍ.

زربین لرونکی ګروپ...

او داسې نور د ضرورت وړ مواد چې په خپل ځای کې به ذکر شي.

د ګرافیک مشکل: Graphic Problem:

د ګرافیک مشکلات عموماً په هغه کمپیوترونو کې پیدا کیږي چې د VGA Chip یې nVida وی د دې مشکل د حل کولو لپاره باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ د کمپیوټر عمومې بورد ته لاس رسی پیدا کړو د خلاصولو لپاره

د رهنما د تعقیب کولو نه وروسته د کمپیوټر په داخل کې کار وکړي.

1. پینل یا Hinge Cover وباسي.
2. هغه درې پیچونو د وړوکي چهاررخ پیچکش پواسطه خلاص کړي چې د کیبورډ له پاسه موجود دي.
3. کیبورډ د خپل ځاي څخه را اوچت کړی او هغه ډیر په ورو ډول مخ پورته خواته تاو کړي ترڅو چې تاسو هغه ځاي و وینې چې کیبورد د بورد سره نښلوي.
4. د کیبورډ لین د سیستم د بورد نه وباسي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



5. هغه کېبل چې د سکرين څخه سيستم ته راغلی وباسي.

6. د ويرليس د انتن کيبلونه وباسي.

7. په احتياط سره کيبلونه بايد و ويستل شي.



8. سکرين بند کړي.

9. خپل کمپيوټر مو پر بل مخ واړوي، چې تاسو ته مخامخ شي.

10. د کمپيوټر د شا نه هغه دوه پيچونه چې اندازه يې M2.5x8-mm ده وباسي چې د D په توري باندې نومول شوي دي خلاص کړي.

11. د کمپيوټر د شانه هغه دوه پيچونه چې اندازه يې M2.5 x 8-mm ده خلاص کړي.



11. کمپيوټر پر بل مخ را واړوي او سکرين خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




12.هارد دیسک خلاص کړي.

13.هغه دوه پیچونه چې د هارددیسک یې کلک کړی دی خلاص کړي.

12.د M2.5 x 8-mm هغه دوه پیچونه چې د هاردیسک لاندې موقیعت لري خلاص کړي.



13.ټول هغه پیچونه چې په تصویر کې ورته اشاره شوی ده بیرون کړی.





په ډیر احتیاط سره ټول کمپیوتر د موس پیډ څخه جدا کړي تر څو موس پیډ پورته جګ شي

14. موس پیډ خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




په ډير احتياط سره د خپلو ګوتو په واسطه موس پيډ پورته طرف ته ورو ورو کش کړي.

وروسته له دې چې موس پيډ خلاص شوو نو مخکې طرف ته يې پورته کړي.

1. د موس پيډ لين د سيستم سره د ارتباط هغه دوه پچونه خلاص کړي چې موديم يې کلک کړی دی.

15. موديم پورته طرف ته پورته کړي چې د سيستم سره يې ارتباط ختم شي.



د سيستم څخه د موديم ارتباط پيدا کوونکی لين مه وباسي.

16. د موديم لين د موديم څخه وباسي.

17. د سيستم سره د سپيکر ارتباط پيدا کوونکی لين وباسي.

18. سپيکر پورته طرف ته جګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





19. سپیکر د احتیاط سره پورته کړي تر څو د خرابېدو څخه يې مخنیوي وشي.

20. د سپیکر او مودیم خلاصول ضروري نه دی خو د خرابېدو د مخنیوې لپاره يې خلاص کړی.


(c) ketabton.com: The Digital Library



دپروسیسر یخوونکي اله:

هغه څلور پیچونه چې د ۱ نه تر ۴ پورې په نمبر باندې لیبل شوي په ترتیب سره خلاص کړي.

1. د پروسیسر یخونکي اله د کمپیوتر څخه پورته کړي.




د هغې نه وروسته که چېري ستاسې کمپیوتر ویدیو چیپ nVida وی نو هغه به هم ښکاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ترميم طرز العمل:

Hot Air Gun په استعمالولو، لږ څه شانته قند فيروزه هم بايد وی.

1. پطرول يا تينر رواخلي، او په ويډيو چيپ باندې يې واچوي که پطرول وی نو يو دقيقه دوه دقې همداسې پريږدی او که تينر وی پرېښودلو ته يې ضرورت نشته.
2. د غاښونو د برس په استعمالولو سره ويډيو چيپ پاک کړئ.
3. هيډګن چالان کړئ.
4. د تودوخې اندازه يې د ضرورت په اندازه چې تقريباً 6 ته نږدې وي تودوخه ورکړي.
5. د تودوخې د ورکولو نه وروسته د يو څو دقيقو لپاره پريږدې.
6. سليکان چې يو سپين رنګ شانته ماده ده په پروسيسر او ويډيو چيپ باندې واچوي او د هغې نه وروسته پرې د پروسيسر يخونکی اله بنده کړي.
7. خپل سيستم مو بېرته وتړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



8. ټول رهنما دښکته طرف نه پورته طرف ته تعقیب او پیچونه بند کړي

وروسته د بندولو نه خپل کمپیوتر چالان کړي و به وینې چې کمپیوتر مو جوړ شوی دی.

یادوونه:
د همېش لپاره باید هر پیچ په خپل مربوطه پیچکش خلاص او په یو محفوظ ځای کې وساتل شی او د بېرته بندولو په وخت کې باېد هره اندازه پیچ په خپل ځای کې بېرته وتړل شی او ټول کیبلونه او لینونه هم باېد په صحیح دول و تړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کیبورډ ترمیم:

۱. ایا کله تاسو څخه په کیبورډ اوبه توی شوی دی؟
۲. د اوبو د داخېلیدو څخه د مخنیوې لپاره باید څه اوکړو؟
۳. د حل لپاره باېد څه اوکړو؟

دا هغه پوښتنې دی چې د لیپټاپ هر یو استعمالونکي ته په ذهن کې پیدا کېږي.

1. د مخنیوې لپاره باېد هغه پلاستیکې پوښ چې د هر قسم لیپټاپ د کیبورډونو لپاره خرڅیږې را ونیسو.

ګټې:

1. کیبورډ ته د اوبو د داخلېدو څخه د امکان تر حده مخنیوی کوي.
2. هغه عاملین چې د یوې بڼې د کار د پرېښودلو لامل ګرځي لکه بوره، تېږه وریجه او داسې نور د داخلېدو څخه مخنیوي کوي.
3. کیبورډ بڼنو تر منځ خالیګاه پاکه، صفا او ښکلي وي.
4. د لیپټاپ سټایل ورسره جوړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. که چیرې تاسې د کیبورډ څخه محافظتې پوښ نه درلوده او په کېبورډ کې درنه اوبه توی شی د دې مشکل د حل لپاره یوه اسانه او ساده لار داده چې:

1. سمدستې او په عاجل ډول سره باید د کمپیوټر څخه بطرې او نور هغه برقې الې چې د کمپیوټر سره وصل دی خلاص شي.
2. کیبورد باید هم خلاص شې.
3. باید تاسې و وینې که چیرې دننه سیستم ته اوبه داخل شوی نه وي نو.
4. کیبورډ بېرته وتړئ او کمپیوټر چالان کړي.
5. که کمپیوټر چالان شو نو
   1. کیبورد چک کړی.
   2. که کیبورد کار وکړو نو څه مشکل نشته.
   3. او که کیبورد کار ونه کړ نو د کیبورد د جوړېدلو چانس ۴۵ په ۱۰۰ کې شته دی.
   4. کیبورډ به د سیستم بورډ نه خلاص کړی.
   5. پر بل مخ یې واړوی.
   6. هغه پلاستیک چې د کیبورد شاته موجود دی لری کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. هيډګن په داسې درجه کې چالان کړي چې ډير ګرم نه وی او د کيبورد شاته ورو ورو تودوخه ورکړی.
8. د تودوخې ورکولو نه وروسته يې د لږې څه شيبې لپاره پرېږدي.
9. کيبورډ وتړی.
10. که کيبورد ښه کار وکړلو نو پوه شئ چې کيبورد نور څه مشکل نه لری، او که کار يې و نه کړ نو کولای شئ نوی کيبورد واخلی او خپل کمپيوتر ته مو ولږوي.
6. او که کمپيوتر چالان نشو نو سمدلاسه د کمپيوتر نه بطري وباسئ او کمپيوتر ټول سيستم بورډ خلاص کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



### د سيستم بورډ خلاصول:


1. پينل يا Hinge Cover وباسي.
2. هغه درې پيچونو د وړوکي چهاررخ پيچکش پواسطه خلاص کړي چې د کيبورډ له پاسه موجود دي.
3. کيبورډ د خپل ځاي څخه را اوچت کړی او هغه ډير په ورو ډول مخ پورته خواته تاو کړي ترڅو چې تاسو هغه ځاي و وينې چې کيبورد د بورد سره نښلوي.
4. د کيبورډ لين د سيستم د بورد نه وباسي.

12. هغه کېبل چې د سکرين څخه سيستم ته راغلی وباسي.

13. د ويرليس د انتن کيبلونه وباسي.



14. په احتياط سره کيبلونه بايد و ويستل شي.



15. سکرين بند کړي.

16. خپل کمپيوتر مو پر بل مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړوي، چې تاسو ته مخامخ شي.

17.د کمپیوتر د شا نه هغه دوه پیچونه چې اندازه یې M2.5x8-mm ده وباسي چې د D په توري باندې نومول شوي دي خلاص کړي.

18. د کمپیوتر د شانه هغه دوه پیچونه چې اندازه یې M2.5 x 8-mm ده خلاص کړي.



12.کمپیوتر پر بل مخ را واړوي او سکرین خلاص کړي.

14.هارد دیسک خلاص کړي.

15.هغه دوه پیچونه چې د هارددیسک یې کلک کړی دی خلاص کړي.

14.د M2.5 x 8-mm هغه دوه پیچونه چې د هاردیسک لاندې موقیعت لري خلاص کړي.





15.ټول هغه پیچونه چې په تصویر کې ورته اشاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی ده بیرون کړی.





په ډیر احتیاط سره ټول کمپیوتر د موس پیډ څخه جدا کړي تر څو موس پیډ پورته جګ شي

14. موس پیډ خلاص کړي.

په ډیر احتیاط سره د خپلو ګوتو په واسطه موس پیډ پورته طرف ته ورو کش کړي.


وروسته له دې چې موس پیډ خلاص شوو نو مخکې طرف ته یې پورته کړي.

1. د موس پیډ لین د سیستم سره د ارتباط هغه دوه پچونه خلاص کړي چې مودیم یې کلک کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




21.موديم پورته طرف ته پورته کړي چې د سيستم سره يې ارتباط ختم شي.



د سيستم څخه د موديم ارتباط پيدا کوونکی لين مه وباسي.

22. د موديم لين د موديم څخه وباسي.

23. د سيستم سره د سپيکر ارتباط پيدا کوونکی لين وباسي.



24. سپيکر پورته طرف ته جګ کړي.

25. سپيکر د احتياط سره پورته کړي تر څو د خرابېدو څخه يې مخنيوي وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



26. هغه اضافي کاردونه لکه وایرلیس، بلتوت او داسې نور هم خلاص کړي.

27. ورکی سیل (بطري) خلاصه کړي.

28. هغه درې پیچونه چې د P په توري لیبل شوي دي او موس پیډ یې کلک کړی دی خلاص کړي.

29. کمپیوټر پر بل مخ واړوي.

30. هارد دیسک خلاص کړي.


31. هغه دوه پیچونه چې د هارددیسک یې کلک کړی دی خلاص کړي.



16. د M2.5 x 8-mm هغه دوه پیچونه چې د هاردیسک لاندې موقیعت لري خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






پە ډیر احتیاط سره ټول کمپیوتر د موس پیډ څخه جدا کړي تر څو موس پیډ پورته جګ شي

موس پیډ خلاص کړي.

. پە ډیر احتیاط سره د خپلو ګوتو پە واسطه موس پیډ پورته طرف ته ورو ورو کش کړي.

a. وروسته له دې چې موس پیډ خلاص شوو نو مخکې طرف ته یې پورته کړي.

26. د موس پیډ لین د سیستم سره د ارتباطې ځاي څخه وباسي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



1. هغه دوه پچونه خلاص کړي چې مودیم یې کلک کړی دی.


2. مودیم پورته طرف ته پورته کړي چې د سیستم سره یې ارتباط ختم شي.




PC Card Reader

3. هغه څلور پیچونه چې د کارد لوستونکي یې ټینګ کړی دی خلاص کړي.

4. کارد لوستونکی پورته طرف ته کش کړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



**دپروسیسر یخوونکي اله:**

**هغه څلور پیچونه چې د ۱ نه تر ۴ پورې په نمبر باندې لیبل شوي په ترتیب سره خلاص کړي.**

**2. د پروسیسر یخونکي اله د کمپیوټر څخه پورته کړي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library




## Removing the System Board د سيستم بورډ خلاصلول:

6. د پکي لين د بورډ څخه خلاص کړي.

7. د لين کارډ او همدارنګه د نورو لکه د موديم، سپيکر او داسې نور کيبلونه خلاص کړي.

8. هغه درې M2.5 x 5-mm اندازه پيچونه چې مادر بورډ يې کلک کړي د کمپيوتر له شانه خلاصوو.




9. هغه څلور 5-mm شپږ اړخيزه پيچونه د کمپيوتر د مخې نه چې په دوهم راتلونکې شکل کې يې ګوري د شش رخ پيچکش پواسطه خلاص کړي.

10. مين بورډ پورته جګ او کوز طرف ته کش او د پلاستيکې پوښ نه يې جدا کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



11. پطرول راوخلئ.

12. د سیستم بورد څخه ټول پلاستیکي تور پوښونه لری کړي.

13. سیستم بورد ومینځي.

14. د بورس په مرسته په ورو ورو ټولو سیستم بورډ پاک کړی.

15. هیډګن چالان کړی.

16. د ګرمولو اندازه د6 درجو په اندازه برابره کړي.

17. ټول سیستم بورډ په صحیح توګه ګرم کړی خو باید پام مو وي

18. چې پروسیسر مو خلاص کړی وي.

19. ویدیو چیپ باید ښه ګرم کړي.

20. کمپیوتر بېرته وتړئ.

21. کمپیوتر چالان کړي.

22. د کمپیوتر د چالانولو لپاره چارجر په بورډ کې ننباسي.

23. کیبورډ په خپل کنیکتر کې چوښ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




24. پروسیسر، ریم هم بسته کړي.

25. پاور بټن ته فشار ورکړي.

26. کمپیوټر به مو چالان شي.

## انځوورنه د بورډ د ننویستلو طریقه ده

د بورډ د داخلولو نه وروسته پورتنۍ عملیې باید د اخرې خوا نه پورته خواته په ډیر دقت او زیرتیا سره وکړي، په یاد ولري چې ټول پیچونه باید تبدیل کړي او هیڅ کوم پیچ باید دکمپیوټر په داخل کې در نه پاتې نه شي تر څو د کمپیوټر په داخل کې د پرزو د خرابېدلو باعث و نه ګرځي



(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دې کتاب مهمې برخې:**

| صفحه | موضوع | کتنه |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غلطیاني**: (لطفا) ستاسو کتنه مونږ سره کومک کوی هغه غلطي چې د کتاب په متن کې موجود دی لری شي. د ارتباط لپاره د خپرندویه ټولنې سره اړیکه ونیسئ.

| صفحه | موضوع | کتنه |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

1. IT Concepts.
2. www.dell.com
3. www.baycongroup.com
4. **امین عبدالقدیر کمپیوتر روزانه استعمال ناچاپ اثر**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**